خدمتگار

۲۰۱۳/۰۸/۱۹

# سل کاله وروسته!

نږدې سل کاله وروسته هم په دې نه پوهېږو چې چېرته یو، مخ ته روان یو، که شاته.
د زمري په اته ویشتمه به یوځل بیا رسنۍ او یا هم احتمالا چارواکي خلکو ته د خپلواکۍ د ۹٤ یمې کلیزې مبارکي ووایي. بیا به هم خلك همغه کلیشه یي خبرې واوري، چې د خپلواکۍ ستاینې به وي او د اسلافو په سربښندنو به د ځینو کسانو برېټې تاوول. شاید په دې ورځ هیڅوك هم ونه وایي چې تر ۹٤ کلونو وروسته چېرته یو، مخ ته روان یو که شاته؟

هیڅ واکمن او هیڅ چارواکی به چمتو نه شي چې په دې ورځ ولس ته د خپلو کړنو حساب ورکړي او ووايي چې د ۹٤ کلونو د مخکي اسلافو پر وياړونو يي څه وراضافه کړي دي .
ایا کوم خلف به پیدا شي چې ځان له خپل سلف امان الله خان سره پرتله کړي او ووايي چې زه هم وياړمن يم، دا ابتکار مي کړی او وياړ مي ګټلی .

شاید په دې ورځ یو څوك له خپل جهاد څخه یادونه وکړي، خو ثمره يي بيان نه کړای شي او یا یي په قضاوت کې له ولس سره پوره بېعدالتي وکړي .

یو بل واکمن به شاید اعلامیه خپره کړي او خپلو جنګیالیو ته به ووايي چې بیداره شئ که یو څو سرونه په افغانانو کې پاتې دي هغه هم د جهاد په نوم ترې غوڅ کړئ، خدای به يي په بدل کې جنت درکړي .

په دې ورځ به ولس د یو څو واکمنو مخاطب وي، د ویناوالو خبرې به دوی ته تشې ستاینې، ځانونو ته د زمري د پوستکي اغوستل او له ځانونو د کاغذي زمريو جوړول وي، خو دوی به د ولس لپاره د خپلواکۍ خبرې په داسي حال کې کوي چې لاهم ولس خوله په حقیقت بېرته کولی او د ځان لپاره عدالت غوښتلی نه شي .

ولس به چاته ونه ویلای شي چې د حق پر نوم د باطلو سوداګري پرېږدئ، فتنه مه کوئ، فساد مه کوئ، واك د ولس د لوټلو وسيله مه جوړوئ، بلکې ولس ته یو څه ورکړئ، که ولس ته د خدمت وړتیا لرئ، نو راوړاندې شئ او که دا وړتیا نه لرئ، نو د هغه چا مخه مه نیسئ چې دا وړتیا لري او دولت او خلکو ته یو څه ورکولای شي .

دا سمه ده چې په ۱۹۱۹ کال کې زموږ اسلافو د برېټانوي اشغالګرو څواکونو په وړاندې له ځانونو سربښندنه او مېړانه وښوده، هغوی يي له هیواده وشړل او د خپلو اخلافو لپاره یي د پاچايي تاج په سر کړ، هغوی په ربښتیا وياړمن وو، د امان الله خان غوندې دقيق انتخاب يي درلود، سوکاله او نېکمرغه وو، خو موږ څه لرو، استبداد، ظلم، استثمار، اختناق، فساد، دوکه بازي، فتنه، جنګ، مفلسي او هره بدمرغي مو لکه د ګانې ګنې زېبښي، خو نه د شکایت مرجع لرو او نه د حق ويلو خپلواکي لرو.

کاشکي چې د خپلو اسلافو د خپلواکۍ ورځ په نمانځلو سره د ځانونو د خپلواکۍ فکر هم راسره پیدا کیدای او له دې ورځ مو دا انګېزه اخستلای شوای، چې نور به چاته اجازه ورنه کړو چې زموږ ویني د دښمنانو په فتواوو توی کړي، د خپلي خوښي او انتخاب حق خپل کړو، څوك د جهاد په نوم ناروا راباندې ونه تپلی شي او د مجاهد په نوم


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

زما د ولس او دولت د جېب وهلو غل نه وي او هر جبون او زجه ایستونکی انسان له غله سره د جوال د خولي نیولو جوګه نه وي او د چارواکو شخصي سلیقه او خوی راباندې قانون نه وي .

که اسلافو د برېټانیا له استعمار نه خپلواکي وګټله، نو د دې وخت اخلافو ته هم سخته اړتیا ده چې قانون ته له زورو اکو خپلواکي واخلي او پر ځانونو د حکومت لپاره د اشخاصو پرځای قانون ته د پاچایي تاج ور په سر کړي.

پای

د خدمتګار ملی ورځپانی څخه په مننه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ